# الف جانه خټکه او د هغې قامي کردار

# ALIF JANA KHATTAK AND HER SOCIAL CONTRIBUTION

Dr Wazir Shadan★

## ABSTRACT

Alif jana Khattak belonged to Karak , the southern district of Khyber Pakhtun Khwa . She was the first lady who surpassed the traditional norms and values and raised her voice for freedom. Her Nation based poetry was also Published in several newspapers and got fame at that time. Her poetry was highly admired as an efforts for the uplift of the down trodden womenfol .

This research paper aims at highlighting the salient features of the poetry of Alif Jana Khattak encircles her personal life and national poetry.

**Key words:** traditional norms, voice for freedom, uplift, down trodden, down trodden.

الله پاک په کائنات کښې د هيڅ يو څيز تخليق د مقصد نه بغير نۀ دے کړے . ساه لرونکي څيزونه خو په خپل ځائے چې بې ساه تخليقات هم د خپل خپل غرض د پاره راوړلي شوي دي . الله پاک په کلهمو مخلوقاتو کښې په هر ډول اهم تخليق د انسان کړے دے کوم چې هم په شکل او صورت غوره دے او هم د غور او فکر صلاحيت لري . په انسانانو کښې اولنے پيدائښت د حضرت ادم ؑ شوے دے او ورسره سم پيدائښت د حوا بي بي دے .دا ځکه چې د ژوند د کار او روزګار د پاره د نر او ښځې دواړو اهميت په ځائے دے .دواړه اشرف المخلوقات دي .په قران پاک کښې په ډېرو ځايونو کښې د دواړو ذکر په يو ځائے راغلے دے .

الله پاک په سوره احزاب کښې فرمائي:

ان المسلمين والمسلمت والمومنين والمومنت والقنتين والقنتت والصدقين والصدقت والصبرين والصبرت والخشعين والخشعت والمتصدقين والمتصدقت

★ Associate Professor of Pashto Govt. Postgraduate College Kohat

والصاء مين والصاء مت والحفظين فروجهم والحفظت والذكرين الله كثيراً والذكرات اعدالله لهم مغفرة و اجراً عظيماً . ۱

**ترجمه**: بېشکه مسلمان سړي او مسلماني ښځې ، ايمانداره خاوندان او ايمانداري مېرمنې، حکم منونکي نرينه او حکم منونکې زنانه، رېښتوني سړي او رېښتوني ښځې، صبر کوونکي سړي او صبر کوونکي ښځې ، عاجزان او عاجزې ، صدقې کوونکي او صدقې کوونکې ، روزه لرونکي او روزه لرونکې ، خپل شرم ساتونکي او خپل شرم ساتونکې ، او ډېر ډېر الله يادوونکي سړي او ښځې ، دې ټولو دپاره د الله پاک په نزد مغفرت او لوے اجر دے .

د يو انسان په حېث که د نر او ښځې مطالعه وشي نو زما په خيال په ډېرو حوالو يکسانيت لري لکه د علم په حواله ، د سيرت په حواله ، د دين په حواله ، د روحانيت او انسانيت په حواله ـ البته په څنې ځايونو کښې د سړو اختيار فراخه دے او په څنې ځايونو کښې د ښځو ذمه دارۍ زياتې دي خو په مجموعي توګه مېرمنې د خاوندانو سره څنګ په څنګ ولاړې دي .

وئيلے شي چې د پلار علم داسې دے لکه د کور دروازې پورې چې علم راشي او د مور علم داسې دے لکه چې علم د کور غولي ته رانوځي ځکه خو د بچو په علم او روزنه کښې د مور برخه زياته ده هم دغه وجه ده چې د مور غېږې ته د اولنۍ درسګاه حېثيت حاصل دے . او د مور د فضيلت په حواله حديث شريف دے :

الجنت تحت القدام الامهات. ۲

يعني جنت د مور په پښو کښې دے .

په هر حال د تاريخ پاڼې ثابتوي چې مېرمنې د ژوند په هر ډګر د سړو سره برغې ولاړې دي، که هغه د دين په حواله ده او که د ازادۍ جنګ دے . که هغه د تنګدستۍ تنګې ورځې دي او که د مسافرۍ غم لړلي ماښامونه ، په يو ځاے کښې هم مېرمنې پاتې نهٔ دي راغلې. کله چې د الله په حکم حضرت ابراهيمؑ حضرت هاجره رضؓ د صفا او مروا په مېنځ کښې يوازې پرېښودې او بي بيؓ ورنه صرف دا تپوس کوي چې ما او خپل ماشوم بچے (اسمعيلؑ) په دغه خوشې صحرا کښې د چا په اسرا پرېږدې ، خو کله چې حضرت ابراهيمؑ ورته د خپل رب نوم اخلي نو د حضرت هاجره رضؓ حوصله يو په دوه کېږي او په ځواب کښې ابراهيمؑ ته تسلي ورکوي چې تهٔ ورځه ! زمونږ حفاظت به زمونږ رب کوي او وروستو د ماشوم اسمعيلؑ د سختې تندې په باب چې د اوبو په تلاش کښې د صفا او مروا تر مېنځ دا کومې منډې وهي او هغه منډې الله پاک ته دومره مقبولېږي چې نن هم هر حاجي هاغه منډې تکراروي او د دې نه بغېر حج نيمګړے وي . دغه رنګ د يو زوے د حلاولو

په وخت به د يوې مور جذبات څۀ وي ؟ خو حضرت هاجره رح په دغه حواله هم د خدا ے حکم ته غاړه ږدي او د اسمعيل ع په قربانولو رضا کېږي . حضرت اسيه رض ،حضرت سميه رض ، حضرت خديجته الکبري رض ،حضرت عائشه صديقه رض ،حضرت فاطمه رض او داسې بلها نومونه وړاندې کېدے شي څوک چې تر ننه پورې په خپل لاړواله کردار ژوندي دي ،

د پښتنو مېرمنې هم د تاريخ ځلنده باب لري .د مېوند په مقام د فرنګيانو او پښتنو دويم لوے جنګ ( ۱۸۸۰ ) کښې د ملالۍ کردار ښخي څرګند دے ، پښتانۀ د وسله والو تر بيت يافته فرنګي فوځ په وړاندې په شا راتللو ته اراده کوي خو پښتنه ملاله په غونډۍ خېژي او خپلو پښتنو جنګيالو ته دا ټپه په اوچت غږ کوي چې:

که په مېوند کښې شهيد نۀ شوې
ګرانه لاليه بې ننګۍ له دې ساتينه

دغه ټپه د ننګيالو پښتنو داسې جذبات راالړزوي چې فرنګ په تېښته مجبوروي .په دغه جنګ کښې ملالۍ هم د وطن په مينه سر ورکوي خو د پښتنو ورونو او خوېندو د پاره يو داسې مثال جوړېږي چې تل تر تله به ياد ساتلے شي .دغه رنګ زمونږ په اولسي ادب کښې هم د مېرمنو برخه ډېره زياته ده .

جانان که سر په وطن کښېښود
په تار د زلفو به کفن ورله ګنډمه
خولۀ به د هغه يار نه ځار کړم
چې د وطن په مينه سر قربانوينه
که د زلمو نه پوره نۀ شوه
ګرانه وطنه جينکۍ به دې ګټينه
خاونده سل ځله ژوند راکړې
چې د وطن په مينه سل ځله مړه شمه

مېرمن زرغونه ، مېرمن رابعه ، حليمه حافظه ، نېک بخته ،نازو انا ، شمو جان او داسې نور زمونږ هغه پخواني کردارونه دي چې د ادب په حواله ژوندي دي .د شلمې صدۍ سېده قانته بېګم ،بېګم اے داؤد ، س ب ب ،خېرالنساء ،مبارک سلطانه شميم ، زيتون بانو ،الفت بېګم درد ، زينت انجم ،بي بي مريم ، ياسمين پروېز ، ثروت جهان ، سلمٰی شاهين ،حسينه ګل او داسې نور هغه پښتنې مېرمنې دي چې د پښتنو شاعرانو او اديبانو سره څنګ په څنګ ولاړې دي.

په دغه پښتنو مېرمنو کښې يو نوم د الف جان خټکې هم دے چا چې په تحريکِ ازادۍ کښې قلمي جهاد کړے دے . په هغه دور کښې چې فرنګيانو د ټوپک او هتکړو په زور يو داسې خوف پيدا کړے ؤ چې د فرنګ خلاف اواز پورته کول يا ليک کول د هر چا کار نۀ ؤ . هغه چا به داسې کار ته ملا تړله څوک به چې د خپل سر نه تېر وو او يا به د وطن په مينه دومره مست وو چې د پتنګ په څېر به ئې فقط شمعې ته ځان رسول وو نور هېڅ نه ! په داسې ليک ډېر پښتانۀ د تورو تمبو شاته اچولي شوي دي .د ګوتو د شمېر په څو پښتنو مېرمنو کښې يوه مېرمن هم دغه ننګيالۍ الف جان وه چې د جنوبي پښتونخوا له لوريه ئې د فرنګ د غلامۍ په خلاف په اول ځل په ښکاره ليکل وکړل او ځان ئې په هغه غازيانو او خدائي خدمتګارانو په ډله کښې ځاے کړو کومو چې د باچاخان د سوري لاندې په ښکاره د فرنګ خلاف جهاد وکړو.

الف جان د ضلع کرک د بانډه داؤد شاه تحصيل احمدي بانډه نومې کلي کښې د غني شاه په کور کښې پيدا شوه.ګران محقق همېش خليل په خپل کتاب پښتانۀ ليکوال (اول ټوک) کښې د الف جان د پېدائښت کال ۱۳۴۲ هـ بمطابق ۱۹۲۷ء ښائي[۳] . اروابښاد پروفېسر شاه جهان[۴]او پروفېسر اسير منګل[۵]هم دغه کال تکرار کړے دے .خو د قومي شناختي کارډ په سمون د هغوي د پېدائښت نېټه لسم ستمبر ۱۹۳۱ء ده او د دې تصديق په ۸ مارچ ۲۰۱۷ د مېرمنو په نړيواله ورځ هغوي په خپله په يو ملاقات کښې د پروفېسرډاکټر بنارس خان ، پروفېسر عزيز قرېشي ، عثمان خټک ،ارشد ضياء (د الف جان وراره) او زما په وړاندې وکړو . د معلوماتو تر مخه د غني شاه درې ښځې وې .الف جان ئې د کشرې ښځې نه ده .د الف جان خپل يو سکه ورو (وزير زاده) او درې خوېندې دي ناسکه درې وروڼه (شهزاده ،صاحبزاده او امير شاه ) او دوې خوېندې لري . پلار ئې د اعزازي کپتان په حېث پنشني دے .

الف جان خټکې په پښتو او اردو کښې ماسټر کړے دے او د ايجوکېشن ډګري ئې د لاهور نه اخستې ده. د کرک او لاچۍ په هائي سکولونو کښې ئې علمي خدمات ترسره کړي دي . د محکمه تعليم نه د ايس - ډي -اي - او (SDEO) په حېث پنشني ده .

د الف جان د پېغلتوب په وخت د خدائي خدمتګار تحريک ښۀ په زور کښې ؤ.د بانډې تحصيل سرخ پوش د سپوائي جوش نه ډک وو.سالار اسلم،حکيم شېرحسن ،خواجه اګاه ،عيد محمد او داسې نور د فرنګ د سترګو ازغي وو.حکيم شېرحسن د الف جان ماما ؤ،د هغوي پحقله يوه واقعه مشهوره ده چې د فرنګ په قېد کښې ؤ،دوه دوه جوړيدارو به په ميچن د غنمو دانې وړوولې ،د شېرحسن جوړيدار ډېر کمزورے ؤ،کار ئې نۀ شو کولے. يوه ورځ ستر فرنګے

افسر جېل ته راغلو او د قېديانونه ئې تپوسونه کول نو شېر حسن ورته ووې چې زما جوړيدار بدل کړه ، نور پښتانۀ ملګري په دې خفه شول چې داسې دې ولې وکړل نو شېر حسن په ځواب کښې ورته ووې چې زۀ فرنګ ته دا پېغام ورکول نۀ غواړم چې زمونږ حوصلې کمزورې دي .مونږ د ازادۍ په قيمت د هېڅ قسم مشقت نه نۀ ويرېږو.

الف جان خټکې د دوي د سيورې لاندې تربيت کا وۀ نو ښکاره خبره ده چې اثر به ئې ترې ضرور اخستۀ ، ځۀ د الف جان خپل جبلي صلاحيتونه وو او څۀ د خپل ماما شېرحسن اثر ؤ چې په هغه کښې ئې سېوائي جرات پېدا کړو، دې تنګيالۍ پښتنې د هغه وخت د سختو بندېزونو پروا وۀ نۀ کړه او د غلامۍ په خلاف ئې قلمي جهاد شروع کړو، د هغه وخت پښتون مجلې ته به ئې منظوم او نثري ليکونه استول . په ۱۹۴۲ء کښې د فخرافغان په نوم پښتون مجلې ته خط ليکي او بابا ته يقين ورکوي چې نور تاته د فکر هېڅ ضرورت نشته ځکه چې اوس درسره خوېندې هم د وطن د ازادۍ په خاطر ښنګ په ښنګ ولاړې دي ، باچاخان د دې خط نه دومره اثر اخلي چې ځاے په ځاے ئې په خپلو جلسو کښې حواله ورکوي،او دغه خط د تنګيالو زلمو او مېرمنو د حوصلو د پاره د يو تحريک په حېث کار کوي.

الف جان خټکې ډېره لږه شاعري کړې ده خو هغه عام شاعري نۀ ده . هغوي د ګل او بلبل يا د حسن او جمال شاعري نۀ ده کړې بلکې د هغوي شاعري د قام شاعري ده، د ننګ و پت شاعري ده ،د غلامۍ په خلاف د ازادۍ نغاره ده.يو طرف ته ئې پښتون ته ائينه ښودلې ده او بل طرف ته ئې ورته د روښ مستقبل ائين ورکړے دے.

ښاغلے همېش خليل د الف جان خټکې په باب ليکي:

'' کوم وخت چې د برصغير هند و پاکستان توريالي د خپلې ازادۍ تر لاسه کولو د پاره راپاڅېدل نو پښتون هم د يو قوم په حېث د ازادۍ په دغه جنګ کښې مېدان ته راووتو چې پښتانۀ شاعران او ليکوال په کښې هم وروستو پاتې نۀ شول. دغه ضمن کښې الف جان خټکه هم د هغو اهل قلمو سره د يوې باعملې پښتنې شاعرې په حېث دغه جنګ کښې د چا نه وروستو پاتې نۀ شوه چې اوس هم د خپل دغه مجاهدانه کردار په وجه د ازادۍ خواهو شاعرانو په صف کښې د يو ښکاره مقام مېرمن ده .''[۲]

'' د الف جانې ټول کلام د پښتو او پښتنو سره د مينې او محبت نه ډک دے ، د پښتنو د زبون حالۍ او بې علمۍ ورته ژور احساس دے . دا د پښتنو ټوله پسماندګي د دوي د علم نه بې خبرې ګڼي ، د خپل پښتون قوم ترقي ئې د زړۀ د کومې اواز دے . او دا ئې

لویه ارزو ده چې پښتون قام هم لکه د نورو ترقي یافته قومونو د ترقۍ هغه لوړے معراج ته ورسي کوم ځاے ته چې د نني ترقي یافته دنیا نور قامونه رسېدلي دي.'' [7]

پروفېسر اسیر منګل لیکي:

'' د الف جانې شاعري چې سرے لولي نو لکه د سېده بشرا بېګم ( س ب ب ) غوندې قام پرسته شاعره ده . په پښتو او پښتونولۍ مئینه ده .'' [8]

الف جان خټکه له ځایه د یو حساس طبیعت خاونده مېرمن ده. د نړۍ نور قومونه ته ئې هم پام دے او خپل خوار پښتانهٔ ئې هم په نظر کښې دي او کله چې د پښتنو د زوال په لور تګ ته وګوري او د هغوي بدې ورځې ته فکر وکړي نو قامي احساس ئې داسې لمبه شي چې د وخت د رواجي بند بزونو دیوالونه ونړوي او د پښتنو د راببېدارولو په خاطر مېدان ته راووځي ، او د مشهور قانوندان سولن کردار ادا کړي. زما تر پامه د الف جان او سولن په کردار کښې ډېر یو والے دے ، سولن د اېتهنز یو نوموړے قانوندان ؤ ، د اېتهنز او مګارا تر مېنځ به د سېلمس جزیرې په سبب همېشه جنګونه کېدل ، د اېتهنز خلقو به همېشه ماتې خوړه او اخر د جنګ نه دومره تنګ شول ،حوصلې ئې دومره لاندې شوې چې په خپله کښې ئې دا ټینګه وکړه چې که چا د جنګ نوم واخستهٔ د هغهٔ سر به قلم کولے شي ، په دې سولن ځان لېونے کړو او په اېتهنز کښې هم د دهٔ د لېونتوب خبر خور شو .دهٔ یو څو دردناک شعرونه ولیکل ، زړې جامې ئې واغوستې ، په غاړه کښې ئې رسۍ واچوله او یو زوړ څادر په سر له کوره ووتو ،ډېر خلق د دهٔ نه راټول شول او دے په یو غونډۍ وختو او د خپل عادت په خلاف ئې شعرونه وئیل شروع کړل چې مفهوم ئې دا دے:

'' افسوس چې زهٔ په اېتهنز کښې نهٔ وې پیدا بلکې په عجم یا بر بر یا چرته لرې په بل وطن کښې پېدا وے چې خلق ئې زما د وطن د خلقو نه زیات محنتي، سخت او په وطن مئین دي .ماته خلق پېغور راکوي چې دا د هغه اېتهنز نه دے چا چې د جنګ نه تېښته او توبه کړې ده ، پاځئ دغه تور د ځان نه لرے کړئ ، ننګ او غېرت وکړئ ، خپل وطن د دښمنانو نه ازاد کړئ۔دې شعرونو د اېتهنز په خلقو کښې دومره جذبه راوپروله چې د سولن په سرداری کښې ئې دښمن ته ماتې ورکړه او وطن ئې ازاد کړو.'' [9]

زما په خیال د الف جان خټکې د شاعرۍ قیصه هم د سولن نه څهٔ ډېره مختلفه نه ده ځکه چې هغه وخت د فرنګ د غلامۍ دور ؤ، پښتنو ته د ننګ او اتفاق سخت ضرورت ؤ او د پښتنو د قامي جذباتو رالړزولو دپاره الف جان هم د سولن په شان د شعرونو نه کار واخستهٔ او د یوې مېرمن په حېث د هغوي سره بله لاړ هم نهٔ وه اګر چې په هغه وخت کښې د پښتنو مېرمنو رواجي پابندۍ

سختي او زياتي وي خو د الف جانې جذبه دومره لوړه ، پاکه او لوغړنه وه چې قامي ښېرغ په لاس ، د ازادۍ او قامي ارتقاء په خاطر ئې داسې نۀ هېرېدونکې او مثالي کردار ولوبوۀ چې الف جان ئې تل تر تله ژوندۍ کړه .

لنډه دا چې شاغلي الف جانې د پښتني معاشرې تنقيدي جاج اخستې دے ، د پښتنو د پسماندګۍ راز ئې معلوم کړے دے ، د زوال د مرض شناخت ئې کړے دے او هم ئې ورلره دوا تجويز کړې ده .هغوي په خپلو شعرونو کښې پښتنو ته د اتحاد او نظم و ضبط ساتنې تاکيد کوي .هغه د يو، دوه پښتنو ترقي ، ترقي نۀ بولي بلکې هغوي په مجموعي توګه د پښتنو ترقي غواړي او د ترقۍ د رفتار تېزولو د پاره د باچاخان قدم سره د قدم يو کولو پېغام ورکوي ،پښتنو ته د جهالت پېغور ورکوي او هم د مېرمنو حقوق د ترقۍ اسباب ګڼي او په تېره تېره د قران او حديث په سمون ژوند تېرول د کامرانۍ راز ثابتوي. نمونه ئې دا ده

پښتونه پورته شه قامونو کښې خپل قام پورته کړه
بيا په دنيا کښې د پرېوتي پښتون نام پورته کړه
ګوره قامونه تول په بام د ترقۍ وختل
تۀ ځله ګورې ترقۍ په لوري ګام پورته کړه
بيا په دنيا کښې د قامونو انجمن جوړېږي
دې انجمن کښې د ګمنامه پښتون نام پورته کړه
بې له نظامه ترقي د قوم ممکنه نۀ ده
قام منظم کړه او معيار بيا د خپل قام پورته کړه
د يو څو کسو ترقي تۀ ترقي مه ګڼه
که ترقي غواړې د قام هر خاص و عام پورته کړه
پرېوتي قام له ترقي بويه د برق په رفتار
د هر سحر په مقابل کښې خپل ماښام پورته کړه
فخرِ افغان نه مې پېغام د ترقۍ راوړے
په دواړو لاسو دا پېغام په احترام پورته کړه
د جهالت الزام په تا باندې په ځاے لګېږي
د خپل تعليم انتظام وکړه دا الزام پورته کړه

د خپلـــې ژبـــې ترقـــي چـــې دې هـــم هېـــره نـــۀ شـــي
د انګرېـــزۍ پـــه شـــان معيـــار د خپـــل کـــلام پورتـــه کـــړه
نـــر کـــه دمـــاغ دې ســـتا د قـــام ، ښـــځې ئـــې زړۀ وګڼـــه
کـــه ترقـــي دې وي مقصـــد د دې مقـــام پورتـــه کـــړه
تـــۀ د خالـــد بابـــا اولاد ئـــې شـــجاعت وښـــايه
د مظلومـــانو پـــه امـــداد کښـــې خپـــل صمصـــام پورتـــه کـــړه
د الـــف جـــان نصـــيحت بيـــا واوره عمـــل پـــرې وکـــړه
پښـــتونه پورتـــه شـــه قـــامونو کښـــې خپـــل قـــام پورتـــه کـــړه[۱۰]

---

## حوالې:


۱- القران ، سوره احزاب ايت نمبر ۳۵
۲- حـــديث شـــريف ،الجـــامع صـــغيرللالباني ،المکتـــب اســـلامي بيـــروت ،۱۹۸۸ء حـــديث نمبر۲۲۲۲ ، مخ ۳۹۴
۳- همېش خليل ،پښتانۀ ليکوال ( اول ټوک ) ،يونيورسټي پبلشرز ،پېښور ۲۰۱۰ء دريم چاپ ، مخ ۴۲۹
۴- شاه جهان ،پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ،پښتو اکېډمي ، پېښور يونيورسټي ،چاپ کال ۱۹۹۳ء ، مخ ۲۰۸
۵- اسير منګل،سويلي رنګونه ، دانش خپرندويه ټولنه ،پېښور ،۲۰۰۹ء ،مخ ۸۹
۶- پښتانۀ ليکوال ، مخ ۴۷۰
۷- پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، مخ ۲۰۸
۸- سويلي رنګونه ، مخ ۸۹
۹- حـــالي ،خواجـــه الطـــاف حســـين ،مقدمـــه شـــعر و شـــاعري ،کشـــمير کتـــاب ګهـــر ،لاهـــور ، چـــاپ کال ندارد ،مخ ۱۱-۱۲
۱۰- پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، مخ ۲۱۰-۲۱۱